شهسوار سنګروال ۲۰۲۲/۰۱/۱۴

# د ډیورنډ موافقه لیک په تړاو

ایا د ډیورنډ موافقه لیک نړیوال حقوقي ارزښت لري؟

نړیواله پو له ورته ویلی شو؟

یوه اړخیزه ټول پوښتنه او «خود ارادیت»مردود دی؟

د کربنې دواړو غاړو ته پراته ولسونه د پرېکړې حق لري ؟

د ډیورنډ غمیزې دېرې او هدیرې ویشلې او د یوې کورنۍ غړي ،رښتیا ده؟

د ۱۹۶۹ کال د نړیوال کنواسیون پریکړه څومره د پام وړ ده ؟

ډیورنډ پخپلې بیوګرافۍ کې څه ویلي دي ؟

پاکستان د برېتانوي هند میراث خور بللی شو ؟

دي او دیته ورته پوښتنې او ځوابونه په دې لیکنه کې . . .

لا د برېتانوي هند د بهرنیو چارو سکرتر «مارټمر ډیورنډ» افغانستان ته نه وه راغلی چې برېتانوي ښکېلاک له ۱۸۸۰ نه تر ۱۸۹۰ کال پورې د شمالي، مینځنۍ او سویلي پښتونخوا سیمې تر ګوملې پورې تر ګواښ لاندې نیولې وې.

انګریزانو په سیمه کې د یولکو ځلوېښت زرو په شاوخوا کې پوځ ځای پر ځای کړی وه. خو کله چې ډیورنډ افغانستان ته راغی نو بیا یې له ځان سره سیمې ته دېرش (۳۰) زره سرتیري د امیر د ګواښلو لپاره راوستي ول.

هغسې خو برتانوي یرغلګرو امیر شېرعلي خان واکمنې ړنګه کړې وه، د ګندمک شرمناک تړون یې په امیر محمد یعقوب خان لاسلیک کړی و. مېچنې، خیبر، کورمه، پېښین او له سپوی برسېره یې غوښتل، وزیرستان، تیرا، د مومندو سیمه، باجوړ، دیر، سوات، چترال، او د لوی افغانستان نورې سیمې هم پخپله ولکه کې راولي.

د برېتانوي هند وایسرای «لارډ ډفرن» د برېتانوي هند د بهرنیو چارو سکرترې ډیورنډ د خپل استازي په توګه وټاکه چې سیمې ته لاړ شي.

امیر عبدالرحمن خان نه یوازې د ډیورنډ د نه راتلو ورانديز وکړ بلکې له «شیلا باغ نه تر کوړک غره» پورې د انګریزانو د تونل وهلو په وړاندې هم کلک غبرګون وښود (۱۸۸۹ – ۱۸۹۰ ز کال) او دی ته یې د «کولمو د سیخ» نوم ورکړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

امیر د ژوب او ګومل په نیولو د برېتانوي هند نوی وایسرای «لینډون» ته هم وړاندیز وکړ (۱۸۹۰ کال د سپتمبر ۳ نېټه) چې یو پلاوی د خبرو لپاره کابل ته ولیږي. ۱۸۹۱ ز کال (د فبروري ۸ نېټه) یې بیا خپل وړاندیز ور غبرګ کړ.

همدا ډول په ۱۸۹۲ ز کال کې پخپله وایسرای ته بلنه ورکړه چې په کابل او یا جلال اباد کې له ده سره د سیمې په اړه خبرې وکړي.

وایسرای په همدې پلمه چې د خبرو وخت لا نه دی را رسېدلی خو موخه یې دا وه چې امیر وګواښي او بیا یې دېته اړ کړي چې څه وایي هغه پرې ومني.

وروسته پېښو وښوده چې د ډیورنډ په راتلو هغه څه چې انګرېزانو غوښتل هغه یې د همدې ګواښونو له مخې په امیر ومنل.

د دغو ګواښونو څو بېلګې داسې وې:

۱ ــ د مېچنی او پټالی په سیمو کې د قومونو تر مینځ اخ و ډب ته لمنه وهل.

۲ ــ سردار محمد ایوب خان په پلمه د امیر وېرول. ګني که تاسو له برېتانویانو سره تړون لاسلیک نکړی نو محمد ایوب خان لاسلیک ته تیار دی.

۳ ــډیورنډ په ځغرده امیر ته وویل که تاسو تړون لاسلیک نکړئ نو بیا جګړې ته چمتو اوسئ.

۴ ــپه سیمه کې د برېتانوي هند د لاسپوڅو پاڅون چې امیر باید له ډیورنډ سره موافقه لیک امضا کړي.

۵ ــ د امو سیند په پاسنی برخه کې د شغنان او روشان په اړه د روسانو غبرګون ته د امیر پام را اړول.

۶ ــ د افغانستان او ایران تر مینځ د پولې په سر چې کومې لانجې د امیر شېرعلي خان د واک له مهال نه را پورته شوې وې امیر ته په دې تړاو غوږ وهنه.

دغه ګواښونه او د دې په څېر نور ډېر لاملونه ول چې د ډیورنډ موافقه لیک پداسې حال کې چې امیر په ښکاره خوشاله برېښېده ولې له ډېر ګواښ سره د نوامبر په ۱۲ نېټه (په ۱۸۹۳ ز کال) له ډیورنډ سره یوې موافقې ته ورسېد. د دې یو ستر لامل دا وه چې برېتانیه او روسیه په ۱۸۸۵ کال په یوه نادریزې پولې باندې د یوې لویې دښتې په سر په شخړه کې تر بل هر وخت زیات جګړې ته نږدې شوي ول. دا د ستری لوبې په اوږدو کې لومړی ځل وه چې دغه ستر ځواکونه د جنګ تر بریده ورسېدل. نو ځکه یې د افغانستان ځمکني بریدونه او کرښې معلومې کړې. په لوېدیځه کې پراخه دښته د پولې په توګه او جنوب ختیځې څنډې د ډیورنډ کرښه.

د ډیورنډ د موافقه لیک په وړاندې غبرګونونه
کله چې ډیورنډ د سپتمبر په پای کې له پېښور نه مخ په کابل وخوځېد. د تورخم په سیمه کې د سپه سالار څرخي په ملتیا د اکتوبر په دولسمه (۱۲) نېټه کابل ته ورسېد.

سایکس پخپل نامتو کتاب کې کښلي دي چې ډیورنډ په سر کې «لومړی د امو د رود، د پولې خبره را پورته کړه . امیر ورته وویل: له دې نه دا بله پوله مهمه ده...

زما خلک د دې پروا نکوي چې زه په روشان یا «شینګان» کې پر مخ ځم او که پر شا، خو دوی ډېر پدې فکر کې دي چې ستاسو له لوري دوی پر کوم ځای ولاړ دي؟»[1]

سنیګال هم پخپل کتاب «هندوستان او افغانستان» کې پدې تړاو لیکلي دي چې ډیورنډ د امیر د چلن په اړه چې د ده پرمختګ او لا سبري ته یې زمینه برابره کړه د برېتانوي هند د مرستو مننذوی وو...»[2]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

رابرتس کاږلي دي چي امير عبدالرحمن خان د روس په پرتله برېټانويان خپل دوستان ګڼل ولي نوموړي وليدل «چي له روسانونه د ده دوستانو (انګرېزانو) د افغانستان ډېره ځکمه لاندي کړه.»[3]

کله چي انګرېزانو د ډيورنډ د کرښي په تړاو د افغانستان له تني نه کومه خاوره بېلوله نو د سيمي خلکو خپل غبرګون د دوی د پلاوي په وړاندي داسي وښود:

۱ –له موافقه ليک نه يو کال وروسته (۱۸۹۴ ز کال) کله چي د نخشي له مخي کرښه معلوموېده په چترال کي عمراخان جندول په برېټانوي پلاوي وسله وال بريد وکړ.

که څه هم له دي ښخوا چي کله د وزير او مسيد و وګړي له موافقه ليک نه خبر شول د انګرېزانو په وړاندي پاڅون وکړ او د واڼي چوني يي وسوځوله.

۲ –د چترال په څېر په وزيرستان کي هم د ملا پونده په مشرۍ د انګرېزانو په وړاندي د سيمي خلکو او ولس په ۱۸۹۵ ز کال پاڅون وکړ او د برېټانوي هند پلاوی يي دي ته پرې نه ښود چي کرښه معلومه کړي.

۳ –کله چي انګرېزان په دي پوه شول چي په پوله کرکېچ زياتېږي نو بيا يي د ولس د ځپلو لپاره رابرتسن Robertsonچترال ته واستوو. کله چي د کلکټ پليټکل ايجنټ هلته ورسېد، د خلکو لخوا کلابند شو، چي وروسته دده د خلاصون لپاره کرنيل کيلي KELLYله کلکټ نه او سررابرټ لو R. Lowله پېښوره ور ورسېدل او دی يي وژغوره.

۴ –هغه مهال چي انګرېزانو په پکتيا او د مومندو په سيمه کي کرښي ته بدلون ورکړ نه يوازې امير د برېټانوي هند چارواکوته شکايت وکړ بلکي ملانجم الدين اخوند، ملاقديم او ملا پونده ولس عمومي پاڅون ته وهڅول او ان تر دي چي انګرېزانو ملا نجم الدين اخون ته وړانديز وکړ چي د دي سيمي ماليه به ورکوي.

۵ –دغو پاڅونونو د برېټانوي هند چارواکي دومره وډار کړل چي پخپله وايسرای له کلکتي نه پېښور ته راغی. او خلکو د ملا قديم خان په مشرۍ د انګرېزانو د لاسپوڅو کورونه وسوځول.

۶ –مومندو د برېټانوي هند په هغه پلاوي بريد وکړ چي غوښتل يي د افغانانو يوه تنه په دوه برخو ووېشي.

د ملا نجم الدين اخون لخوا د فتوا له مخي د ډيورنډ کرښي (که څه هم کرښه لا کښل شوي نه وه) دواړو غاړو ته پرتو ولسونو د جهاد ناره پورته کړه.

آيا د ډيورنډ کرښه نړيوال ارزښت لري؟
د دي موافقه ليک نړيوال حقوقي ارزښت څکه د تامل وړ دی چي پخپله امير عبدالرحمن خان پخپل کتاب کي پخپل قلم دېته داسي ګوته نيولي ده:

«تاسو لما څخه د بريد پولو د دې قبيلو په بېلولو سره چي زما همدينه او هم ملته دي، زما د ولس پر وړاندې زما سپکاوی کوئ او ما ناتوانه کوئ. زما ناتواني ستاسو د دولت لپاره زيان دی. خو زما نصيحت يي ونه مانه. د هندوستان دولت دومره لېوال وه چي د بريد پولو دا قبيلي له ما څخه بېلي کړي. چي زما چارواکي يي په زوره سره له بلندخېلو، وانه او ژوب څخه ووېستل ياني هغوی ته يي وويل که تر پلانی نېټي پورې ونه وتلی نو تاسو به په زور وباسو.»[4]

له دغو څرګندونو څخه ښکاري که امير دغه موافقه ليک لاسليک کړی هم وی اويا نه وی نو انګرېزانو چي څه غوښتل هغه يي کول.

د ملګرو ملتو په کنوانسيون کي (۱۹۶۹ ز کال) راغلي دي کوم تړونونه چي د زور (د زورور – کمزوري تر مينځ) له مخي لاسليک شوي دي بايد ډېر ژر لغوه شي.

د کنوانسيون په (۵۱) ماده کي هم داسي لولو: کوم موافقه ليکونه چي د ګواښ له مخي امضا شوي دي نړيوال حقوقي ارزښت نه لري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

امیر د ګواښ په توګه دې ټکي ته هم ګوته نیولې ده چې جنرال رابرټس ته دنده سپارل شوې وه چې له خپلو ځواکونو سره جلال اباد ته ځان ورسوي. ډیورنډ هم ګواښ کړی وه که چېرې امیر موافقه لیک لاسلیک نه کړي نو جګړې ته دې ځان چمتو کړي.

د موافقه لیک په تړاو د بهرنیو،
حقوق پوهانو او تاریخ پوهانو اندونه:
دا چې امیر عبدالرحمن خان په خپل کتاب کې په ګوته کړې ده چې دغه موافقه لیک نړیوال ارزښت نه لري یو ستر لامل یې دا دی چې د یوه ګواښ له مخې لاس لیک شوی دی.

جي – بي – تیت د برېتانوي هند نامتو چاراوکی هم انګېري: د ډیورنډ موافقه لیک له دې بابته نه دی لاسلیک شوی چې د افغانستان او برېتانوي هند پولې وټاکي. بلکې د امیر د واک قلمرو یې ګنلی دی.»[5]

د جي بي تیت د لیکنې موخه دا ده برېتانویانو غوښتل چې له دغو سیمونه د هندوستان نیمه وچه د خپل سیال هېواد د روسیې له برید نه وژغوري سرپرس سایکس هم په دې اند دی چې:

د برېتانوي هند استازي ډیورنډ او د امیر تر مینځ د دغه موافقه لیک بنسټیزه موخه د دې سیمې کنترول وه. موخه یې دا نه وه چې د هند پوله را وړاندې کړي.[6]

دډیورنډ په «بیوګرافي نومي کتاب کې هم دېته ګوته نیول شوې ده چې دغه تړون پدې نوم لاسلیک شوی نه دی چې برېتانوي هند د افغانستان خاوره لاندې کړي (۲۱۷ مخ) بلکې د دغې سیمې د کنټرول هیله یې لرله«.

ویلیم بارټن او توماس هولډک هم د یادو څرګندونو پخلی کوي خو د ټولو له خبرو نه داسې انګېرل کېږي چې دغه سیمه د «نفوذي ساحې» پنوم یادې شوې دي.

ولې یوه خبره د پام وړ ده چې په بېلابېلو انګلیسي متونو کې دغه موافقه لیک ته فرنټیرلین Frontier، با ونداي لین Boundary، بورډر Bordar نوم ورکړشوی دی او په سریزه کې بیا د «نفوذ ساحې» ټکی هم کارول شوی دی.

موږ پدې بنسټ ویلی شو، کله چې تړون دواړو غاړو ته مبهم وي نو خپل نړیوال باور له لاسه ورکوي.

د ډیورنډ موافقه لیک او د پاکستان جوړېدل:
تر هغې چې پاکستان جوړېده افغان ولس له چترال نه تر بولانه پورې په بېلابېلو سیمو کې د برېتانوي ښکېلاک په وړاندې وسلوال بریدونه وکړل چې موږ د وزیرستان د توچې د ناوې (۱۸۹۷ کال د جون ۱۰) برید چې په انګرېز پلیټیکل چې – جي (GEE)وشو د ساري په توګه یادولی شو.

په ۱۸۹۷ ز کال (د جولای پر ۲۶) په ټول سوات کې د لېوني فقیر په مشرۍ وسلوال پاڅون چې تر ملکنډه پورې پرمختګ وکړ. د همدې ملا نجم الدین اخون په لارښودنه د مومندو ایجنسي وګړو په ۱۸۹۷ ز کال د اګست په «۹» نېټې د پېښور «شبقدر» ونیو.

همدا ډول له خیبر نه تر تیرا پورې د لس زرو تنو په شاو خوا کې د دې سیمې خلک د «سید اکبر» په مشرۍ د انګرېزي ښکېلاک په وړاندې پاڅېدل چې ډېرې سیمې یې ازادې کړې او د جنرال «لوکاټ» له ۴۴ زرو پوځیانو سره په مېړانه وجنګېدل.

په سامانه کې ورکزیو هماغسې ترېنو بیا تر پښین پورې دډیورنډ دواړو غاړو ته پرتو افغانانو ان د پاکستان تر جوړېدو یو د بل پسې د انګرېزانو په وړاندې خونړي پاڅونونه وکړل.

«حقیقت دا دی چې د برېتانو یانو په وړاندې پښتون ولس د خپلې خاورې د ازادۍ لپاره ډېر جنګونه وکړل.»[7]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

کله چي د هند نيمه وچه په ۱۹۴۷ ز کال د هند او پاکستان په نوم ووېشل شوه. پاکستان په ۱۹۴۷ ز کال د سپټامبر په دېرشمي (۳۰) نېټې ملګرو ملتو ته د غړيتوب لپاره وړانديز وکړ.

افغانستان چي د يوه کال د مخه (سپتمبر ۱۹۴۶ ز کال) د ملګرو ملتو غړيتوب تر لاسه کړی وه. نو د افغانستان استازی عبدالحسين خان عزيز د يوې وينا په ترڅ کې و ويل.

افغانستان د پاکستان د خلکو په ازادۍ کې ځان شريک ګڼي. ولي د ملګرو له غړي توب سره يې زما رايه مخالفه ده. دا ځکه چي شمال لوېديځه کرښه د پاکستان برخه نشم ګڼلی.

دا چي د اکتوبر په شلمه (۲۰) نېټه يې د مخالفت رايه بېرته واخسته لامل يې دا وه چي په نوامبر کې يوه دېپلوماتيکه ناسته په پام کې وه چي په کراچي کې جوړه شي.

افغانان په دې اند وه چي د کورنيو او بهرنيو ستونزو له امله ښايي پاکستان دېته غاړه کېږدي چي د پښتونستان داعيه ومني.

ولي دا يوه تېروتنه وه دا ځکه چي پاکستاني چارواکو له يوې خوا باچا خان (عبدالغفار خان) زندان ته تېل واهه او له بلې خوا يې دېته هم لمن وهله خدايي خدمتګار هندوستان غواړي او له خپل مسلمان ورور نه کرکه لري.

دې خبرې هغه وخت لا زور واخست چي د پاکستان پوځونو هغه سيمې کلابندې کړې چي د پښتنو خپلواکي يې غوښته. دوی يې هم وځپل او هم يې دغه ډندوره ګډه کړه چي باچا خان کانګرس ښه ګڼي او مسلم ليګ بد ګڼي.

ډاکټر خان چي کله د صوبه سرحد اعلی وزير وه د کانګرس ګوند په ګټه يې هندوستان ته رايه ورکړې وه هم د تامل وړ وګرځېد.

«په ۱۹۴۸ کال د جون په مياشت کې عبدالغفار خان او يو شمېر مشران بندي شول. ډاکټر خان چي هغه وخت د صوبه سرحد «اعلی وزير» وه به نفع شموليت کانګرس ايالتي سرحد در اتحاد به هندوستان رای داده بو.»[8]

له دويمي نړيوالي جګړې وروسته د افغانستان حکومت د خپلو تاريخي او ملي اړيکو له مخې د افغانستان له جغرافيې نه د بېلو شوو (پښتونستان) او له لاسه وتلو سيمو غوښتنه په ټينګه راپورته کړې وه.

که څه هم د هغه مهال د پوهنې وزير نجيب الله خان په يوې راديو يې وينا کې وويل:

د ۱۹۳۱ کال نه راواخله تر ۱۹۳۴ ز کال پورې افغان حکومت په وار وار له انګرېزانو نه وغوښتل چي له افغانستان نه بېلې شوې سيمې بايد د هند خاوره ونه ګڼل شي.

«خان، عبدالغفار خان هم په ۱۹۴۶ کال د برېتانوي هند د وزيرانو د دې پرېکړې مخالفت وکړ چي صوبه سرحد دې د پنجاب (وروسته پاکستان) برخه شي.»[9]

د افغانستان حکومت هم له دويمي نړيوالي جګړې وروسته د وزيرانو شورا په يوه غونډه کې د نوامبر په څلورمه (۱۹۴۴ ز کال) نېټه پرېکړه وکړه «کوم څه چي په راتلونکي کې د هند په نيمه وچه کې پېښېږي د سرحد د پښتنو مدغم کېدلو مخه بايد ونيول شي.»[10]

کله چي د پاکستان په نوم کومې ډندورې را پورته شوې د ډيورنډ دواړو غاړو ته غبرګونونه پيل شول.

ډاکټر خان «لارډ بيټن» ته چي پښتونخوا ته راغلی وه وويل: «کله چي هند وېشل کېږي صوبه سرحد به د پاکستان برخه نه وي.»[11]


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

لا هند وېشل شوی نه وه چي د جون په مياشت (۱۹۴۷) کي افغان حکومت وويل: که چېرې د هند او پاکستان په نوم هېوادونه د نړۍ په سياسي جغرافيه کې مينځته راځي او انګرېزان د هند د نيمي وچي اوځي ورسره جوخت د ډيورنډ موافقه ليک له مينځه ځي.

همدا لاملونه ول کله چي پاکستان جوړ شو په رسمي او نا رسمي غونډو کي دغه پرېکړه وغندل شوه.

هغه مهال چي د پښتنو او بلوڅو مشران د پاکستان لخوا زندان ته تېل وهل شول افغان حکومت په ډاګه د پاکستان حکومت غندنه وکړه.

د افغانستان او پاکستان د حکومتونو اختلاف دي کچي ته ورسېد چي د پاکستان هوايي ځواکونو د جولای (۱۹۴۹ ز کال)په مياشت کي په مغلګی برید وکړ او افغان چاړواکو په خپل غبرګون سره لومړی یوه لويه جرګه را وغوښته او پرېکړه يي وکړه چي د پښتونستان له داعيي به ملاتړ کوي.

له دې سربېره لويي جرګي د ډيورنډ د تړون په ګډون ټول هغه تړونونه چي له انګرېزانو سره لاسليک شوي لغوه اعلان کړل.

همدا راز د ډيورنډ پوري غاړې ته پرتو ولسونو د «تيرا» په سيمه کي د اګست په دولسمي (۱۲) نېټي (۱۹۴۹ ز کال) هم يوه لويه جرګه را وبلله او د پښتونستان بنسټ يي اعلان کړ او هم يې يو ملي بيرغ تصويب کړ.

د پښتونستان په نوم خوځښت د ډيورنډ د کرښي دواړو غاړو ته روان وه. ان ايپي فقير چي ځان يي د پښتونستان پاچا ګاڼه هم دغه سياسي بهير ته ژمن وه.

ولي له بده مرغه دغه کړکېچ لا تر اوسه روان دی او تر اوسه يي لا د حل کومه لاره نه ده مونډل شوې.

[1]سايکس، سرمورټمر ډيورنډ ۲۱۲ مخ.

[2]سينګال، هندوستان او افغانستان ۱۴۶ مخ.

[3]رابرټس، پي ای، د برېتانوي هند تاريخ ۴۹۲ مخ.

[4]امير عبدالرحمن خان تاج التواريخ ۳۵۷ – ۳۵۸ مخونه.

[5] G. B. King of Afghanistan p. 188

[6] History Of Afghanistan.

[7]سينګال، هندوستان او افغانستان ۱۶۳ مخ.

[8]غوث عبدالصمد سقوط افغانستان ۹۳ مخ.

[9]مروت، فضل الرحيم په افغانستان کي... ۲۷۲ مخ.

[10]نعيم، محمد عزيز مجاهد ولس خپرونه ۱۹۹۶ کال د جولای مياشتنی ګنه.

[11]مروت... ۲۷۳ مخ.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ